# غلام نبي ( ګل)

زمونږ حماسه جوړوونکي ملت ته دې د روسي اشغال پر وړاندې زموږ د حماسو د لړيو نه د تکبيرونو د ښار (کابل) د ۱۳۵۸ کال د حوت د درېيمې حماسې او سربشندنې مبارکي وي.

## د تکبيرونو د ښار (کابل) له ژونديو خاطرو يوه !

هغې به خپل خورمايي ويښــتان داســې شــاته ووهل لکه د لمر وړانګې چې د ســروې تر نازکې ملا راتاوې شـــي او بيا به يې د پوهنتون د کتابونو ډک بيک په اوږه کې واچاوه، تر ډېره به يې د کو ر د دهليز په قد برابره اېينه کې داســـې ځان ته کتل تا به ويل چې په خپله د خپل ځان پيرېدونکې ده. مغرور حسن يې د غرور غرونه نړول. د پوهنتون په لاره به يې هميشه شونډې پر غاښو چيچلې او د ښـار وګړي ورته د فيل په غوږ کې ويده ښـکاريدل. پټې خولې او فيلسـوفانه سـوچونو يې د پوهنځي د استادانو او محصلينو په زړونو کې پوښتنې را ولاړې کړې وې. کله چې به په ټولګي ننوته د ټولګي په توره تخته به يې خپلې بادامي اوبلنې سـترګې داســې خښــې کړې تا به ويل چې په رصـد خانه کې ناسته ده او له لرليدونکې کې د لمريز نظام څيړنه کوي.

خداى خبر د څه په اړه به يې فکر کاوه خو هر چا دا منله چې ټوله ښـــکلا ده غرور يې د هر مغرور ملا ماتوله. کله چې به غرمه مهال له پوهنځي رخصــت شــوه او د موټرو د تم ځاى په لور به وخوځيده د عادت سره سم به هر چا لار پريښوده او تر تم ځاى پورې به يوه اوږده کوڅه جوړه شوه، نابلدو خلکو به انګيرله چې ضــرور په دې لار د کومې امپراتورۍ ملکه راځي خو اکثره خلک په دې پوهيدل چې غرمه ده د پټې خولې فيلسوفه به له پوهنتون نه رخصت شوې وي.

دا يوه داســې ننداره وه چې هر چا به په کوڅه سـترګې خښــې کړې وې او خپلې ګوتې به يې په غاښـو چيچلې او لکه بوتان به ولاړ و. هغې به لکه بريښـنا چې د وريځو سينه څېرې کړي د سـترګو په رپ کې به د ملي بس په دروازه وختـه. کله چې به د کور په دروازه ورننوته ســپين ســرې نيا به يې تيار ماښو ورته لوګي کړي و. او په يوه پوکي به يې د ماښو لوګی د هغې په ټول وجود پوف کړ، هغې به خپله نيا په غيږ کې ونيوه او بيا به يې پر لاسـو ور پريوته، په تشـناب کې به يې خپل لاس او مخ تازه کړل او د ډوډۍ په خونه کې به په غوړيدلي دسترخوان کېناسته په بسم الله به يې څو مړۍ تر ستونې تيرې کړې او بيا به يې خپله غاړه د خونې د چت په لور کږه کړه، ښايسته څنډ به يې خپلې سترګې پر چت نښلولې وې، بيرته به يې خپله غاړه سمه کړه او د شونډو په سر به يې وويل شکر الحمد الله .

پټه خوله يې هميشـــنۍ ملګرې وه، د ژمي په موســـم کې به يې کله کله د ســـپوږمۍ رڼا ته د واورو غونډارې د هســک په لور پورته پورته واچول او بيا به د باد په وزرونو د وريځو په بړ بړې او مهار شوو اوښانو سپره شوه، د ږلۍ او واورې کارخانې به يې وليدې او د اسماني تندر څخه به يې د الماسو غمې د باج په ډول واخيستل. د سپوږمۍ کنډو کپر مخ به يې يو څه له نژدې وليد.

بيرته به ګهيځ وختي د وريځو په نيلي سـپره لکه د سـهار نسـيم به يې په شـنو کروندو خپل اس ښـه وځغلاوه. د ښـار ويده وګړي به لا له خوبه نه و راپاڅيدلي چې دې به بيا خپل خورمايي ويښـته شـاته ووهل او خپل بيک به يې په اوږه کې واچاوه او په دهليز کې ځوړندې اينې ته به ودريده، تر ډيره به يې خپلې اوبلنی بادامي سـترګې له اينې سـره جنګولې تا به ويل چې ذليخا ده او اينه کې يوسـف ع د سترګو په ګواښ ويروي او يا په اينه کې د سليمان ع نګين ده، دا پکې د دنيا عجايب ګوري. دا يو هم نه و، د دې مغرور حسـن د ځمکې د ښـکلا تنابونه شـکولي و، له دې نه خو دا مطمئنه وه چې بې له

دې د ښکلا الهه څوک کېدای شي. د زړه په سترګو يې اينې ته کتل ښايسته څنډ به اينې ته ولاړه وه او بيا به يې سر د ناراضايتی په ډول وښوراوه او د پوهنتون په لور به لکه مار چيچلې کفتره روانه شوه، په لاره به يې بيا بيا خپلې طبعي سرې شونډې داسې چيچلې تا به ويل چې اوس به ترې وينې دارې ووهي، درسي ساعت به لا نه و شروع شوی چې دا به د ټولګي په دروازه ورننوته.

د پټې خولې د فيلسوفي په باب د هغې د کورنی، د پوهنتون د محصلينو او استادانو پوښتنې ورځ په ورځ زياتيدې، چا به ويل د کومو ظالمو سترګو ښکار شوې ده، چا به ويل چې په کومې ورکې پسې ګرځي چې ځمکه يې له شتون څخه عاجزه ده خو څوک و چې دا پوښتنې ځواب کړي. په همدې شپو ورځو کې ژمي خپل ټغر ټولاوه، د ۱۳۵۸ کال د حوت مياشـــــت وه د ځمکې پر مخ پرتې واورې د هسک په لور منزل پيل کړی و او د لمر د سوځوونکو وړانګو پر وړاندې يې خپله بې وسې ښودله. د پټې خولې د فيلسوفي د کور په انګړ کې واوره نه وه چې دا يې د هسک په لور پورته پورته واچوي او په دې توګه د هسک د خاوند شکر ادا کړي د شپې تر ناوخته به يې د هسک په لمنه د ستورو د منډو رامنډو لارې وڅارلې او بيا به د خپلې خوب کوټې ته لاړه. يو ماښـــــام يې د خوبونو او خيالونو بحر توفاني شـــــوی و بې له دې چې د ماښـــــام ټيکله وخوري وختي د خپلې کوټې په پراته تخت کې ستونې ستغ غځيدلې وه او د خونې پر چت يې خپلې سترګې خښې کړې وې.

نازکې شونډې يې مرۍ مرۍ کېدې، د ويلو يې ډير څه درلودل خو د اوښکو څپو يې د ژبې مخه ډب کړې وه ، سر کښته اوښکو يې په سرو او سپينو اننګو جر پټانی کاوه چې مور يې ورباندې غږ کړ، لورې لورې! د بام ســـرته وخيژه د الله اکبر نارې دي لکه چې ســـپوږمۍ خواره پورورې نيولې ده، د مور نارو يې د خيالونو مزي ور پرې کړ او په منډه منډه د بام سر ته وخته، ژر يې د سپوږمۍ په لور وکتل لکه چې سپوږمۍ هم د دې منتظره وه چې خپله هميشنی ملګرۍ وګوري او د زړه حال ورسره شريک کړي، د سترګو په اشاره يې ورته وويل خورې مبارک، ته خو له يواځې والي خلاصه شوې د ښـــار په لکونو وګړي دې له درانه خوبه پاڅيدل، د الله اکبر څپو دا له ســـپوږمۍ ســـره خبرو ته کله پرېښوده، د لاس په اشاره يې د سپوږمۍ د مبارکۍ ځواب ورکړ او ورپسې غبرګ يې له خولې داسې د الله اکبر چيغه ووته لکه اسماني تندر. تر سهاره ښاريان ويده نه شول، د تکبير نارې لکه د بحر څپې به د ښـــار له يوې څنډې نه بلې څنډې ته تللې را تللې، کمونســـتان او روســـي پلوي له ويرې کوټو ته ننوتلي و، پردې يې کش کړې وې ترڅو يې څوک ونه ويني، په ســـلګونو ټانګونه د ښـــار واټونو ته راوتلي و، تر څو د ملکوتي اوازونو غږونه په ستونو کې ټپ کړي خو دا کله شونې وه، د پټې خولې فيلســـوفه تازه په خبرو راغلې وه، له خوشـــالۍ ځمکې ځای نه ورکاوه، د کور انګړ ته به پريوته په دهليز کې ځوړندې اينې ته به ودريده، خپلې خورمايي زلفې به يې شاته ووهلې او د رضايت په علامه به يې خپل مغرور ســـر وښـــوراوه او د شـــونډو په ســـر به يې له ځانه ســـره وويل، ای زما مغروره معشـــوقه، غرور له تاسره ښـــايي زما غرور له تا څخه د سـرکښـو بنده ګانو پر وړاندې ده، ما د خپل رحمت په بحر کې ولمبوه، زما د ښـــاريانو کوډلې او جونګړې د ښـکيلاک او تجاوز پر وړاندې ټينګې لره. زموږ ټاټوبی زموږ په لاســـونو د ښـــکيلاک ګرو هديره وګرځوه او بيا به د بام ســـر ته وختله. سپوږمۍ ته به يې د خدای په امانۍ په ډول لاس وښوراوه او ورسره غبرګ به يې د الله اکبر چيغه له سرايي غاړې داسې په يوه زور ووتله چې سږي به فکر کاوه چې معشوق يې اواز نه اوري. شپه يې په نفلونو او د تکبير په نارو ســـبا کړه، د ســـهار لمونځ يې ادا کړ، د معمول په ډول بيا د کور په دهليز کې ځوړندې قد برابرې اينې ته ودريده، خپل خورمايي ويښـــته يې شـــاته ووهل، د معمول خلاف يې د کتابونو بيک په غاړه نه کړ، لومړی د نيا او بيا د مور په لاســـونو پريوته، ډک زړه يې د تشـيدو نه وه لکه پيروي نازکې شـــونډې يې له خوشـــالۍ مرۍ مرۍ کېدلې. په ســـوق ســـوق يې وويل، مورجانې ما وبخښه، زه د هغه ځای په سفر ځم کوم چې ستا تر قدمونو لاندې ده ما د همداسې ورځې لار څارله او

بیا يې د کور نه د وتو په مهال یی خپله نیا په غیږ کې ونیوله او په سوق سوق یې ورته وویل، که اوبه راپسې شیندې خوښه د خپله. مغرورې فیلسوفې ته دا مهال د مرګ او ژوند راز جوت شوی و د سترګو په رپ کې د زرګونو پیغلو او ځوانانو د قافلې سره چې د یرغلګرو روسي قواوو او د هغو د لاس پوڅو د مقابلې لپاره د ښار واټونو ته راوتلې و، یو ځای شوه. د سترګو په رپ کې یوې نوراني ملکې تور عالم شریف چې د لا اله الا الله محمد الرسول الله نجات ورکوونکې او زړه راښکونکې کلیمه پرې لیکل شوې وه د دې په نازکو پنجو کې ورکړ. دې عالم شریف په غیږ کې ونیوه په مخ او سترګو یې ومښه او بیا یې د هسک په لور په لاسونو کې پورته ونیوه، داسې ښکاریده لکه د خپل معشوق لاس یې چې په خپلو منګولو کې کلک نیولې وي. د دې لا په عالم شریف مینه نه وه سړه شوې او د الله اکبر ناره یې په خوله کې وه چې ناولې ګوتې په ماشه راښکل شوې او د اور مردکې یې له مبارکې سینې نه په تیزی ووته، سرو وینو ترې دارې وهلې او دې لا عالم شریف په خپلو منګولو کې کلک نیولې و تر اخرې ځاځکې وینې د ښار مغروره روانه وه او بیا د خپل ښار د لوی واټ په خاورو راپریوته، په داسې حال کې چې عالم شریف یې په غیږ کې کلک نیولې وه د شهادت د کلیمې تر ویلو وړاندې یی د زړه په شومه خپله تیره دعا بیا داسې تکرار کړه: یا الله ج زموږ د هېواد کوډلې او جونګړې د تجاوز ګرانو او ښکیلاک ګرو په وړاندې ټینګې لره. یا الله ج زموږ تاټوبی د تجاوز ګرو او ښکیلاک ګرو هدیره وګرځوه. یا الله ج زما د قوم ټبر او خلکو سرونه یواځې او یواځې خپل ځان ته ټیټ لره.